PROPERTY OF ACKU

احمد شاه «وحدت»
Ahmad Shah WAHDAT
Mobile: 0700252598
E-mail: ahmadshahwahdat2@yahoo.com

دغه رنگ مو تاسې غوره امت گرځولي یاست چې پر خلکو گواهان اوسئ

شهادت

اونیزه

د حزب اسلامي افغانستان نشراتي ارگان

الهی فرمان

ای کسانی که ایمان آورده اید خود و خانواده خویش را از آتشی که هیزم آن انسانها و سنگهاست نگه دارید؛ آتشی که فرشتگانی بر آن مؤظف شده که خشن و سختگیرند و هرگز فرمان خدا را مخالفت نمی کنند و آنچه را فرمان داده شده اند (به طور کامل) اجرا می نمایند!

(لقمان : ۱۸ - ۱۹)

نبوی ارشاد

از ام المؤمنین حضرت عایشه رضی الله عنها روایت است که رسول الله صلی الله علیه وسلم فرموده اند: همیشه جبرئیل علیه السلام مرا در مورد همسایه توصیه می نمود تا این که گمان کردم که شاید در میراث حقی را برای همسایه تعیین خواهند کرد.

(مشکواة)

شهادت دویم کال، ۵۵ مه گنه، سه شنبه - ۱۳۸۹ هـ ل د غویي ۷ مه د جمادی الاول ۱۳ مه - ۱۴۳۱ هـ ق ۲۰۱۰ م د اپریل ۲۷

انگلا مرکل: عواقب خروج سریع آلمان از افغانستان، مخربتر از یازده سپتامبر خواهد بود

برلین، خبر گزاری فرانسه:
صدراعظم آلمان با بي‌اعتنايي به خواست افکار عمومی این کشور در خصوص خروج هرچه سریعتر نظامیان آلماني از خاک افغانستان اعلام کرد که خروج عجولانه آلمان از افغانستان عواقبي مخرب‌تر از حادثه ۱۱ سپتامبر به دنبال خواهد داشت.
خبرگزاری فرانسه گزارش داد که انگلا مرکل دراظهاراتي اعلام کرد: "من از مردم آلمان مي‌خواهم که از سربازان و نظامیان کشورشان که در افغانستان مستقر هستند، حمایت کنند و هشدار مي دهم که خروج عجولانه و شتابزده نظامیان آلماني از افغانستان پیامدها و نتایجي مخرب‌تر از حادثه ۱۱ سپتامبر به دنبال خواهد داشت.
وي افزود: تمامي نظامیاني که در افغانستان مستقر هستند، شایسته قدرداني، احترام و حمایت ما هستند.
صدراعظم آلمان در ادامه تأکید کرد: درخواست هاي مبتني بر خروج نیروهاي آلماني از افغانستان، غیرمسئولانه است و باید بدانیم که خروج بدون برنامه‌ریزي از افغانستان، ریسک و خطر قرار گرفتن سلاح‌ها و تجهیزات...

بقیه در صفحه ۴

امریکا به د اصلاحاتو راوستو لپاره پر ولسمشر کرزي فشار ته دوام ورکړي

هیرالد تریبیون امریکایي ورځپاڼي امریکا ته د ولسمشر کرزي د راتلونکې میاشتې د سفر او له هغه څخه د امریکایي چارواکو د احتمالي غوښتنو په باب په یوه مقاله کې په دې ټینګار کړی چې له افغانستان سره نړیوالې مرستې دې د نړیوالو مالي ادارو او همداراز ملګروملتو له لوري وڅارل شي.
د دې ورځپاڼې په نظر که د افغانستان په حکومتي چارو کې د نړیوالو موسسو رول زیات شي، په دې هیواد کې به د فساد له کمېدو او د حکومتي خدماتو له ښه کېدو سره مرسته وشي.
هیرالډ تریبیون ورځپاڼې د افغان ولسمشر حامد کرزي پر کارونو اود ده په وروستیو امریکا ضد ځرګندونود مایوسی په ترڅ کې هغه بې باوره متحد بللی دی .خو په عین حال کې یې لیکلي چې کرزی د افغانستان ولسمشردی او د طالبانو د ماتولو لپاره د امریکا هر راز هیله د ده له همکاری پرته پوره کېدای نه شي.
د امریکا ولسمشربه راتلونکې میاشت واشنګټن ته د ولسمشر کرزي په سفر کې له هغه د لا زیاتو اقداماتو غوښتنه وکړي.
د هیرالډ تریبیون له مخې کرزي ته به د واشنګټن بلنه هسې یوه مېلمستیا نه وي بلکې په دې سفر کې به پر هغه انتقادونه هم وشي. ځکه چې د بارک اوباما حکومت غواړي چې پر ده فشار جاري وساتي...

پاتی ٤ مخ

امریکایی چارواکي وایي: له ملا برادر څخه مو مهم معلومات ترلاسه کړي دي

اسلام آباد، خبري رسنی:
امریکایي چارواکو ویلي دي چې د طالبانو د دوهم لوړ پوړي شخص (ملا برادر) له تحقیقاتو څخه د هغې ډلې او امریکایي ځواکونو پر خلاف د طالبانو د عملیاتو په هکله ګټور معلومات ترلاسه شوي دي.
ملا عبدالغني برادر د جنوری په پاي کې د پاکستان په بندري ښار کراچي کې د CIA او د پاکستان د استخباراتي اداري ISI د ګډو عملیاتو په نتیجه کې ونیول شو.
که څه هم په لومړي سر کې له نوموړي سره چې د پاکستان په توقیف کې ؤ د امریکایي مستنطقینو اړیکه ډیره محدوده وه. خو وروسته ISI پدغه محدودیت کې آسانتیاوي رامنځ ته کړې او امریکایي مستنطقین توانیدلي دي، چې لږ تر لږه په تیره یو میاشت کې په منظمه توګه مستقیماً د هغه په تحقیقاتو کې برخه واخلي.
درې امریکایي چارواکو، چې پدې موضوع کې لاس لري وویل: ځیني معلومات چې د ملابرادر له خوا ورکړی شوي دي د اعتباروړ، تصدیق شوي او د امریکایي قوماندانانو، استخباراتي مامورینو اوپه افغانستان او واشنګټن کې د تحلیل کوونکولپاره ګټورو.
دغو امریکایي چارواکو د رویتر خبري آژانس ته د خپل هویت د نه بربنډولو په شرط دغه خبري کړي دي، ځکه موضوع ډیره حساسه ده. هغوی ونه غوښتل چې د دغو معلوماتو د خصوصیت...

پاتی ٤ مخ

مخالفین مسلح در بدل آزادی خبرنگار جاپانی خواهان رهایی عدهٔ از زندانیان خود شدند

پلخمري، رسانه ها:
محبوب "الهی" که خود را سخنگوی طالبان در ولایت بغلان معرفی می کند به رسانه های محلی در این ولایت گفته است که یک خبرنگار جاپانی درقید آنان است و حاضرند او را در بدل آزاد ساختن برخی از محبوسین خود رها کنند.
کوسوکی "سونیکا" خبرنگار جاپانی حدود ۲۰روز پیش در مناطق شمالي افغانستان ناپدید شده بود که از همان زمان نیز زمزمه‌هایي مبتني بر ربوده شدن او توسط طالبان در ولایت بغلان شنیده مي شد.
رحیم الله سمندر ریس انجمن آزاد ژورنالیستان افغانستان در یک کنفرانس خبری در بغلان گفته بود که "سونیکا" توسط شخصی به نام محمد داود مشهور به حاجی داود در بغلان مرکزی ربوده شده است.
این سخنان درحالي ایراد شد که طالبان همواره این موضوع را رد کرده و تاکید نموده بودند که هرگز با فعالیت خبرنگاران مخالف نیستند.
گفته‌هایي که امروز و با تایید سخنگوي طالبان، کاملاً رد شد و مشخص گردید که براي آنها خبرنگاران نیز مي توانند به عنوان ابزاري براي رسیدن به مقاصدشان استفاده شوند.
محبوب الهی می گوید: آنان باتماس هایي که با دولت و سفارت جاپان در کابل داشته‌اند، دولت را قانع کرده‌اند که در بدل آزادی این خبرنگار شماری از زندانیان این گروه را آزاد نمایند، اما او مشخص نکرد که فهرست ارائه شده آنها به دولت شامل چه تعداد از محبوسین طالبان است.

بقیه در صفحه ۴

د سولې په راوستو کې افغان دولت څومره ارت مټ لرلای شي؟

۲ مخ

د تاجکستان ولسمشر امام علی رحمان:

په افغانستان کې سوله او ثبات پر درستې منځنۍ اسیا مستقیم اغېز لري

دوشنبه ښار، خبري رسنی:
د تاجکستان ولسمشرامام علي رحمان وایي په افغانستان کې سوله او ثبات پر درستې منځنۍ اسیا مستقیم اغېز لري او (د افغانستان ستونزه یوازې له پوځي لارې نشي اوارېدای).

ښاغلي رحمان د تاجکستان پارلمان ته په وینا کې وویل: له دې حقیته انکار نه شي کېدای اوپه دې کې څوک شک نه شي کولی چې د منځنی اسیا امنیت د افغانستان له امنیت سره نېغ په نېغه ارتباط لري.
ده وویل: د نړیوالې ټولنې د غوښتنود تاییدولو په ترڅ کې چې موږ هم پکې شامل یو، تاجکستان د زړه له کومي دا مني چې یوازې له پوځي لارې په افغانستان کې د سولې او ثبات ټینګښت ممکن نه دی
ده زیاته کړه: نړیواله ټولنه باید په افغانستان کې د حالاتو د عادي کولواو په دې هیواد کې د تلپاتې سولې لپاره نورې لارې چارې او میتودونه ولټوي.
د تاجکستان ولسمشر د ۱۹۹۲ — ۱۹۹۷ کلونو ترمنځ د خپل هیواد کورنی جګړو ته اشاره وکړه، چې په ترڅ کې یې په لسګونو زره تاجکان ووژل شول، او ویې ویل له دې تجربې د افغانستان د ستونزو د اوارولو لپاره استفاده کېدای شي. د تاجکستان پنځه کلنه کشاله بالاخره د خبرو اترو او په حکومت کې وسله والو مخالفانو ته د برخې ورکولو له لارې اوراه شوه. تاجکستان له افغانستان سره ۱۳۴۴ کیلومتره پوله لري او حاضردمه شېرخان بندر د دواړو هیوادونو ترمنځ د تجارتي راکړې ورکړې تر ټولو مهم بندر دی.

پر ایران د بندیزونو لګولو هڅې تېزې شوې



د امنیت شورا پنځو دایمي غړیو او جرمني پر ایران د بندیزونو د زیاتولو لپاره خپلې غونډې زیاتې کړې دي. د ملګروملتو دیپلوماتانو د تیری پنجشنبې په ورځ وویل،
د امنیت شورا پنځه دایمي غړي او جرمني د ایران د اتومي پروګرام پرسرد دغه هیوادپرضد د نورو بندیزونو د لګولو په باب خبرو اترو ته سرعت ورکوي.
په ملګروملتو کې د امریکا، بریتانیا، فرانسې، جرمني، روسې او چین سفیرانود پنجشنبې په سهارغونډه جوړه کړې وه خو په ترڅ کې یې کومې نتیجې ته ونه رسېدل، د همدې ورځ په ماسپښین د څلورو لوېدیځو ...

پاتی ٤ مخ

تاکید غرب بر ادامه دوستی با افغانستان

ص ۴

د لوی او مهربان خدای په سپېڅلي نامه

د ثور اتمه د افغانستان د تاریخ یوه زرینه پاڼه

د ثور اتمه د افغانستان په تاریخ کې هغه طلايی ورځ ده چې د افغانستان د پنځلسو لکو شهیدانو وینه رنګ راوړ او مجاهدین د افغانستان پلازمینی کابل ته په فاتحانه ډول ننوتل. نړی والو ته یی ثابته کړه چې د افغانستان مجاهد اولس پر خپل دین، خاوره او استقلال په هیڅ حالت کې سودابازي نه کوي، هیچاته اجازه نه ورکوي چې دهغوی عقیده او استقلال پښو لاندې کړي.

افغان هغه تاریخي قوم دی چې د خپل تاریخ په اوږدو کې د خپل استقلال او عقیدې لپاره له بل هرچا زیات قرباني ورکړې دې، د نړی په سر داسی هیواد نشته چې د افغانستان په څیر په پرله پسې ډول د بهرنیو اشغالګرو ځواکونو تر یرغل لاندی راغلې وي او خپل نیم عمر یې د یرغلګرو پوځونو په خلاف په جنګونو کې تیر کړې وي، پخپل وار د نړی لویو لویو طاقتونو او فاتحانو د افغانانو د جهاد فولادي حوصلو د ماتولو تر آخري توانه کوښښ کړی خو د افغانانو د بهادری او فولادي جذبو په وړاندې پخپله بی حوصله شوي، اعصاب یی شل، او عقلونه یی له لاسه ورکړي دي، یواځی افغان قهرمان اولس دی چې هر وخت د جنګ په میدان کی حیرانوونکی زغم او حوصله ښودلی او ددښمن په خلاف د تاریخ په هره پړاو کې په پوره شوق او ولوله جهاد کړي دی. که دومره مسلسل جنګونه د نورو هیوادو په اولس مسلط شوي وای نو هغوی به خپله حوصله ضرور له لاسه ورکړی و او د سختي په وړاندی به په دواړو لاسو سلامي شوي وو.

واقعاً چې د افغانستان د قهرمان اولس دغه قوي عزم او حوصله د ستایلو دی او ځومره فخر چې ورباندی وکړی شي کم دی، د افغان اتل ولس اتلولی دومره څرګنده ده چې پخپله دښمن ځواکونو هم پخپلو لیکنو او خبرو کې په واز کومی اعتراف کړی او نورو ته یې نصیحت کړی دی چې پر افغانستان د ګیډې اچولو شوق ونکړي.

هر کال د ثور اتمه چې د مجاهدینو د بری ورځ ده ټولو هغو مغرورو پراختیا غوښتونکو فرعوني قوتونو ته چې د افغانستان دلاندی کولو شیطانی خوبونه ويني پیغام ورکوي چې خپل دغه خوب او خیال له خپلو مغزو وباسي او پدی خبره څو څو ځلي غور وکړي چې د نړی ټول فرعوني اشغالګر ځواکونه په افغانستان کې مات شوي او دغه خاوره دهغوی لپاره قبرستان ګرځیدلې ده.

د ثور د اتمې د تاریخي بري په یاد کی مونږ د افغانستان ټول متعهد مسلمانان خپلو ټولو هغو شهیدانو او ژوندي غازیانو ته سلام او د عقیدت ګلونه وړاندې کوو چې هغوی د افغانستان د زمکنۍ بشپړتیا او د خپل دین دفاع لپاره نه هیریدونکی قرباني ورکړی او خپلې وینې یې نذرانه کړیدي.

موږ افغان ددغی تاریخی ورځې په ویاړ یو ځل بیا له خپل ناصر خدای سره ژمنه کوو چې د خپل هیواد د سلامتیا او د الله تعالی د دین د سر لوړی لپاره به له هر ډول قرباني څخه ډډه نه کوو او تر هغی به خپلی هلې ځلې جاري ساتو تر څو مو چې افغانستان د امن کور، او اولس ته مو د سوکالی ژوند نه وي برابر کړی.

د سولې په راوستو کې افغان دولت څومره ارت مټ لرلای شي؟

احمد شاه «وحدت»
Ahmad Shah WAHDAT
Mobile: 0700252598
Email: ahmadshahwahdat2@yahoo.com

فدا محمد فایض

سوله هغه ورک ګوهر دی چې دا دیرش کاله افغانان شپه او ورځ ورپسې ګرځي او د موندلو له پاره یې دعاوې کوي؛ خو نه یې مومي. ددې عمده دلیل دادی، که څه هم چې سوله د افغانانو اړتیا ده، خو د سولی د راوستلو واک د افغانانو نه دی، دا سوله به یا راته امریکا راولي، یا پاکستان، یا ایران یا ناتو یا نور چې نه یې راولي. هغه د حضرت عبدالرحمن بابا خبره:

زه داهسې دیوانه و مجنون چا کړم
له رواجه له رسومه بیرون چا کړم

موږ ته چې څه مصیبت راپېښ دی د همدوی له لاسه، تر کومه چې افغان مجاهدینو د روس او کمونیزم مقابله کوله نو همدوی پرې شاباش او افرین وایه، خو چې کله د لوی خدای په فضل سره روس د مجاهدینو په لاسو مات شو، نو بیا همدغو هېوادو مجاهدینو ته د دښمنی په هغه سترګه وکتل چې پرون یې روسانو ته کتل. زه دا نه وایم هغه څه چې تر ۱۳۷۱ وروسته په افغانستان کې پېښ شول، چې په هغو کې د مجاهدینو د قیادتونو ګناه نه وه او یا هغوی د تبرئې مستحق ګاڼه شي؛ خو په افغانستان کې د تنظیمی جنګونو د پیلولو اصلی عاملین همدوی وو.

کله یې چې مجاهدین ښه له پښو وغورځول بیا یې د طالبانو بهیر رامنځ ته کړ خو هغوی یې هم د نظام جوړولو ته پرې نښودل، په انزواکې یې وساتل او په پای کې یې دهغوی د وهلو او خپل راتګ له پاره د سپتمبر د یوولسمې د پېښو ډرامه جوړه کړه.

د بن سیاسی بهیر هم همدوی رامنځ ته کړ خو اوس دادی اته نیم کاله تیر شول، خو په افغانستان کې جنګ ورځ تر ورځې شدت مومي، ددې جنګ عوامل هم همدغو هېوادونو رامنځ ته کړي دي او تمویل، تجهیز او تسلیح یې هم، د همدوی په لاس کې ده.

دا نن سبا چې په کابل کې د سولی د مشورتي جرګې د جوړولو لپاره هلې ځلې روانې دي، که چېرې دا جرګه دایره کړای شي او نتیجه یې مثبته راووځي، دا خو ښه شګون دی او باید افغانان یې په نیک فال ونیسي، خو اندیښنه داده چې افغان دولت ددغې جرګې د مشورو چې خدای وکړي مسایل په کې په جرأت سره مطرح کړای شي، د عملي کولو څومره صلاحیت او څومره امکانات لري؟ موږ ولیدل چې ددولت یوه والي څو تنه ایټالویان په اصطلاح غله له پنځه سره ونیول او ادعا یې دا وه چې دده د وژلو توطیه یې جوړه کړې وه، خو زمونږ امنیتی ادارو دغې مسألې ته ډېر ژر پرتوګ وکړ، خپل والي یې دروغجن ثابت کړ او دهغوی کړي جنایت ته یې توجیه پیدا کړه او په خیر و عافیت سره یې روم ته واستول.

پښتانه وايي:

چې نه دې وي سړي
مه کرت خوره مه غوړي

چې افغان دولت واک نه لري، نو بیا یوه داسې لوی کار ته اوږه ورکول به څومره عملی جنبه ولرلای شي. نن سبا زموږ ټول مشکل بهرنی مداخله ده دا که په هر نامه ده، په هر بڼه ده او په هره بهانه ده، افغان دولت باید تر هر څه دمخه پر دې فکر وکړي، چې خپل له لاسه ورکړی استقلال څه ډول لاس ته راوړي اوس خو لومړی خبره هم امریکا کوي او تصمیم هم امریکا نیسی، افغان دولت خو په اصطلاح هغه د "سیاهی فالیز" حیثیت لري، کله چې جمهور رئیس دهغوی د خوښې پرخلاف حرکت وکړي، پارلمان په غاړه کې ورواچوي او چې پارلمان ځان وښوروي هغه په یو ډول نه یو ډول له پښو راونیسي.

اوس ددغې دایریدونکې جرګې د مشورو تطبیق بیا هم افغان دولت ته پاتی کیږي او دا به یو بل بار وي چې د افغان دولت پر اوږو پرېوځي حال دا چې دولت به یې د عملی کولو وس نه لري.

ښه داده چې که لویه جرګه په هغه بڼه چې په اساسې قانون کې تعریف شوی ده، د ولسوالیو د شوراګانو د نه شتون په وجه نشی دایریدای چې عنعنوي لویه جرګه جوړه کړای شوی وای. زموږ د تاریخ په اوږدو کې زموږ ملي مسایل همدغو ناتعریف شویو عنعنوي جرګو حل کړي دي، کله چې په ۱۷۴۷ کې د نادر افشار تر وژل کیدو وروسته افغانانو د یوې ملي واکمنی د جوړولو فرصت وموند، همدا عنعنوی لویه جرګه کښیناسته او د افغانستان لپاره یې قیادت وټاکه؛ داسې قیادت چې افغانستان یی په ټوله سیمه کې وځلاوه او له ډیلی نه تر اصفهانه یې د افغانانو واکمني پر ټولو ومنله. همداسې د تاریخ په هر پېر کې عنعنوی لویو جرګو کار ایستی دی، لویه جرګه نه باید انتصابي وي او نه فرمایشی بلکې د ملت ریښتینی استازی پکې غړیتوب ولري، چې په پوره جرأت سره ستونزې هم مطرح کړي، د حل لارې یې هم په ګوته کړي او د نهایی تصمیم صلاحیت هم له همدغې لویې جرګې سره وي.

زه سره له دې چې د سولی ډېر کوچنی اقدام هم ستایم، ځکه سوله زموږ اړتیا ده، جګړه زموږ په ګټه نه ده، د اوسنی جنګ د تداوم په صورت کې افغانان لاپسې مري، هېواد یې ویجاړیږي او ګټه یې یا د امریکا په ځولۍ کې لویږي، یا د ناټو یا د پاکستان یا ایران یا د سیمی د نورو هېوادو؛ خو د سولی راوستل هم دومره اسانه کار نه دی، زما په اند د سولی راتګ خو لومړی "د خدای په لوی کرم به کیږي" او دوهم دادی چې افغان اولس باید په مجموع کې دا شعور واخلي، چې د نورو په چوپړ کې ځغاستل دوی لاپسی بدبخته کولای شی او لایې په غمونو اخته کولای شي، البته د نورو نوکري، دا که په هره بڼه وي، نوکري ده، که د پاکستان او ایران نوکری، نوکري ده، نو د امریکې تر هغو لویه نوکري ده، تر هغی چې افغان اولس د یوې اسلامي او افغاني "خودۍ" احساس ونه کړي ویده شعور یی راویښ نه شي، د خپلی خیر ښیګړې لارې چاری ونه پیژني، د خپل استقلال او ملي حاکمیت د ارزښتونو د راژوندی کولو حس ورسره پیدا نه شي هیڅکله هم له اوسنی بدې ورځې نه، نه شي خلاصیدای بس همدا جګړه به وي، وینی به بهیږي، خو سپرلی به کله هم رانه شي. دهر څه لپاره یو څه مقدمات ضرور دي، د سولی لپاره هم ضرور دي تر هغې چې هغه مقدمات برابر نکړای شي، هسې بی مقدمې هېڅ هم نه کیږي او نه کیدای شي.

تأکید غرب بر ادامه دوستی با افغانستان

اعزامی

هر چند پس از سفر بارک اوباما به افغانستان در ماه قبل، اعلامیهٔ مشترکی صادر نگردید و مطابق معمول هر دو رهبر در ختم مذاکرات دوجانبه در کدام پرس کنفرانسی حضور نیافتند و فقط همین قدر گفته شد که رئیس جمهور امریکا به قصد دیدار و مذاکره با حامد کرزی رئیس جمهور افغانستان و قدردانی از شجاعت عساکر امریکایی در تصرف مارجه، به افغانستان سفر کرده است، ولی از قراین پیدا بود که هم بارک اوباما و هم مایک مولن لوی درستیز آن کشور، در دید و وادیدهای جداگانه خویش با حامد کرزی، از روال جاری اقدامات حکومت افغانستان در مبارزه علیه فساد اداری و کشت و قاچاق مواد مخدر و در مجموع نبودن حکومت داری خوب، اظهار نارضایتی کرده و هشدارهای پنج ماه قبل خویش را مبنی بر اینکه جناب کرزی تا شش ماه وقت دارد که در امر مبارزه با فساد اداری دست بکار شده و نمونهٔ حکومت داری خوب را ارائه کند، تکرار کردند و تأکید داشتند اگر در ظرف این مدت این مهم برآورده نشد، در جهت برگزاری انتخابات زود هنگام اقدام خواهد شد. این اولتیماتوم در همان زمان، نماد روشنی از مداخله خارجی در امور داخلی افغانستان بود و جناب حامد کرزی باید با شدت آن را رد می کرد، ولی تبلیغات وسیع خارجی ها علیه انتخابات، التهاب ایجاد شده در روابط افغانستان با جامعه جهانی و مهمتر از همه نیازمندی های افغانستان به کمک خارجی ها، باعث گردید که جناب کرزی در آن زمان در برابر این مداخلات لب زیر دندان گرفته و سکوت اختیار نماید و در عوض به ترمیم وضع آشفتهٔ ذهنی داخلی بپردازد. اگر چه در همان زمان نیز جناب کرزی تلویحاً به پاسخ جامعه جهانی پرداخته و بخش اعظم فساد اداری را زادهٔ عوامل خارجی وانمود کرد که از کنترول دولت افغانستان خارج است.

پرده برداشتن حامد کرزی از مداخلهٔ وسیع سفارتخانه های خارجی و دفتر ملل متحد در کابل در جریان انتخابات ریاست جمهوری گذشته و اعمال تقلبات واضح آن ها در پروسهٔ رأی شماری و اعلان نتیجهٔ انتخابات، حاکی از لبریز شدن کاسهٔ صبر رئیس جمهور در برابر دست اندازی های خارجی است. از انتخابات گذشته اظهار داشت و هشدار داد که ما بار دیگر برای خارجی ها اجازه مداخله در امور انتخابات آیندهٔ پارلمانی را نمی دهیم. همچنان رئیس جمهور در صحبت با مردم قندهار، به آنها وعده داد که در صورت عدم رضایت، آنها به نیروهای خارجی اجازهٔ راه اندازی عملیات نظامی در قندهار را نمی دهیم. رئیس جمهور به کارمندان کمیسیون انتخابات گفت: هرگاه خود سری و تفرقه اندازی خارجی ها در کشور ما ادامه یابد، این عملکرد آنها به منزلهٔ اشغال کشور ما بوده و بر ادعای مخالفین دولت صحه میگذارد.

مقامات امریکایی در اول وهله، از این اظهارات حامد کرزی تکان خورده و عکس العمل جدی نشان دادند، چنانچه پاسخ های شدید پیتر گالبریت معاون پیشین دفتر ملل متحد در کابل، فلیپ کرولی سخنگوی وزارت امور خارجه امریکا و رابرت گیبس سخنگوی قصر سفید شاهد این مدعا است، ولی پس از دو هفته تحلیل و سنجش، دولت مردان امریکایی و در مجموع همه غربی ها به این نتیجه رسیدند کم موضعگیری تند آنها در برابر حامد کرزی و هم مداخلات وسیع اعمال شدهٔ آنها در جریان انتخابات ریاست جمهوری، اشتباهاتی اند که نمی شود از آن انکار کرد و باید به احساسات زعامت افغانستان احترام گذاشته شود. بناءً آقای بارک اوباما در جریان سفر اخیر خود در شهر پراگ پایتخت جمهوری چک که به منظور امضای پیمان تقلیل اسلحه اتمی با رئیس جمهور روسیه (دیمتری میدیودیف) به آنجا سفر کرده بود، در رابطه به اظهارات اخیر حامد کرزی چنین گفت. "رئیس جمهور افغانستان جناب حامد کرزی، باوجود صحبت های تندش بر ضد غرب، در جنگ به رهبری امریکا علیه تروریزم، یک شریک و متحد مهم و حساس امریکا می باشد." آقای اوباما طی مصاحبهٔ با تلویزیون (ای بی سی) امریکا، بر حضور عساکر امریکایی در افغانستان تأکید کرد و در پهلوی پیروزی های نظامی، خواهان پیروزی در ساحه ملکی نیز شد. به نظر نامبرده جناب کرزی متعهد به از بین بردن فساد اداری در کشورش است و این کار را انجام می دهد، مگر وقت می خواهد. آقای اوباما اختلاف نظر مقامات دو دولت را امر عادی تلقی کرد و اضافه کرد در چهارچوب ستراتیژی مشترک به صحبت های واقعی و صریح خود ادامه می دهیم تا شراکت ما تقویه گردیده و به پیروزی نایل شویم.

در یک انکشاف دیگر جنرال جیمز جونز مشاور امنیتی ریاست جمهوری امریکا، اعلان نمود که پلان مجوزهٔ ملاقات بارک اوباما با حامد کرزی در ۱۲ می سر جایش است و جنجال ایجاد شده پس از اظهارات مقامات رسمی دو طرف، مربوط به زمان گذشته است که هر دو کشور آن را پشت سر گذاشته اند. همچنان راسموسن منشی عمومی پیمان ناتو در جریان سخنرانی در پوهنتون شیکاگوی امریکا، در مورد نارضایتی های حامد کرزی از برخورد مقامات غربی گفت حامد کرزی همکار خوب ناتو می باشد ملزم نیست که هر آنچه را که اعضای ناتو می خواهند، آنرا انجام بدهد و یا بگوید. ما بطور عمومی با حامد کرزی رابطه خوب داریم و ادامه این همکاری ضامن کامیابی ستراتیژی دراز مدت ما می باشد. منشی عمومی ناتو اذعان کرد که قصد ناتو در افغانستان، سوق دادن این کشور به سوی دموکراسی است و تلاش های نظامی ما برای تحقق اهداف سیاسی می باشد، راسموسن در پاسخ به این سوال که حامد کرزی غرب را به مداخله در امور داخلی افغانستان متهم می کند و غرب او را به بی توجهی در زدودن فساد اداری متهم نموده، نظر شما درین مورد چیست؟ گفت: راه حل اینست که باید با کرزی محاسبه شود، آقای کرزی تعهد کرده که سیستم حکومتداری را طوری بهبود می بخشد که در آن فساد وجود نداشته باشد، راسموسن در مورد تقلبات اعمال شده در انتخابات ریاست جمهوری سال گذشته، صرف اینقدر گفت که در انتخابات مزبور، تقلب وجود داشت که با نورم های دول غربی تطابق نداشت، ولی اینکه تقلبات را خارجی ها مرتکب شدند و یا ماموران افغان، نامبرده صراحت نکرد. راسموسن بار دیگر حامد کرزی را همکار خوب ناتو خواند و گفت: او شخصیت سیاسی یی است که ما با او در افغانستان سرو کار داریم و می توانیم با او همکاری کنیم.

پس از اظهارات ضد غربی حامد کرزی در امور داخلی افغانستان و ایجاد تنش میان کابل و واشنگتن، رئیس جمهور ایالات متحده امریکا ضمن ارسال نامه یی به حامد کرزی به ادامه همکاری های کشورش با افغانستان تایید کرد. در این نامه که روز شنبه ۲۱ حمل توسط ایکن بیری سفیر آن کشور در کابل، به رئیس جمهور کشور تقدیم گردید. آقای بارک اوباما از جناب کرزی بخاطر مهمان نوازی و استقبال گرمش حین سفر به کابل قدردانی کرده است و بار دیگر خاطر نشان نموده که وی منتظر سفر جناب کرزی به تاریخ ۱۲ می در واشنگتن می باشد. در نامه تذکر رفته که مذاکرات فیما بین رؤسای جمهور هر دو کشور در کابل مفید و سازنده بود و توقع نموده که مذاکرات کابل در واشنگتن پی گرفته شود. اوباما در نامه اش، افغانستان را منحیث همکار ستراتیژیک امریکا خوانده و آرزو نموده که هر دو کشور برای دست یافتن به هدف های مشترک بکار شان ادامه بدهند.

از متن نامهٔ اوباما و اظهارات راسموسن و جیمز جونز به صراحت پیداست که اتهامات حامد کرزی مبنی بر مداخلات وسیع غربی ها در انتخابات ریاست جمهوری و سایر امور کشور ما صحت دارد و مقامات غرب اکنون حاضر شده اند تا با پذیرفتن اشتباهات خویش مبنی بر مداخله در امور افغانستان، برنامه ها و شرایط حامد کرزی را در ادامهٔ همکاری و احترام متقابل بپذیرند.

محمد خلیل

سوله د هر افغان غوښتنه ده

که څه هم انسان له پاره د روغې جوړې او سولې ژوند هر وخت ضروري دی او له سولې پرته د امن ژوند ناممکن دی، خو په اوسنیو شرائطو کې د افغان مسلمان اولس لپاره روغه جوړه تر ټولو ستر ضرورت ده، لکه څنګه چې د ناروغ سړي لپاره دوا درمل بنسټیزه اړتیا ده همداسې د امن د خوږې فضا د قیام له پاره سوله تر ټولو مهم ضرورت ده، لکه څنګه چې د ناروغۍ د ختمولو لپاره د روغتیا ترلاسه کول ضروري ده همداسې د مینې او ورورګلوي د ټینګیدو لپاره د سولې او روغې جوړې فضا رامنځته کول ضروری ده جنګ او سوله پخپلو کې غوښه چاړه دي، چېرته چې جنګ وي هلته سوله او امن نه وي، او چېرته چې سوله، امن او ورورګلوي وي هلته بیا د جنګ ترخه فضا د اسمان په څنډو کې نه لیدل کیږي.

په جنګ کې تباهي، بربادي، هلاکت، قهر، غصه، کینه، حسد او بغض حاکم وي مګر په سوله کې آبادي، پرمختګ، مینه، ایثار، ورورګلوي، همدردي او پیرزوینه مضمره وي.

په جنګ کې د علمي کدرونو جنازه اوځي، عدل او انصاف پښو لاندې کیږي، د خلکو جونګړی سوځیږي او هر لورې د غم، ویر، ژړا، فریاد او سلګو توری وریځې خوریږي، مور له خپلو ماشومانو او ماشومان د خپلې مور له تودې غیږې نه محرومیږي. د ښځې او خاوند د مینې جونګړه او د ارمانونو دنیاګې ورانیږي، واړه ماشومان د خپل پلار له عاطفې او پلار د خپلو ګلونو په څیر ماشومانو له خوشبوی او د زړه آرام نه بې برخې کیږي. جنګ هغه بده بلا ده چې د ژوند ټول رونق، خوښي او تازګی له منځه وړي غرونه، رغونه دښتې، بیدیا باغونه او رودونه خپله ښکلا له لاسه ورکوي او هر څه پژمرده او پیکه ښکاري، ځکه خو د کائناتو پیدا کوونکې ذات جنګ او جدل حرام او فساد یې غندلې دی، سولی ته ښه او جنګ ته یې بد ویلي دي.

اسلام د امن او محبت پیغام ورکوي، پخپلو منځو کې د مینې او ورورګلوي فضا کې د ژوند تیرولو تاکید کوي، اسلام مومنان پخپلو کې ورونه ګرځولي او د جنګ په صورت کې ورته د روغې جوړې امر کړیدې.

د سولې په خاطر ګام اوچتوونکو ته د ابدی جنت زیرې، او د هر ګام په عوض کې د لسو نیکیو، او لسو ګناهونو د بخښلو وعده کړیده، د فساد لپاره هر قدم اوچتوونکی ته د دردناک عذاب وعید اورولې او لعنت یې ورباندی کړیدې.

راځئ په خپل ګریوان کې سر ښکته کړو، له خپل ضمیر نه پوښتنه وکړو، د قرآنکریم او نبوي سنت په ارشاداتو غور وکړو، پر زمکني حقایقو نظر واچوو، خپل عقل او منطق په کار واچوو او بیا فیصله وکړو چې کوم خپل منځي جنګونو، اختلافاتو، وژنو او ځورونو ته چې علیم او خبیر الله بد ویلی دي هغه به زموږ لپاره څنګه ګټور شي؟

موږ افغانانو چې په سلو کې ۹۹ د اسلام د سپیڅلی دین د منلو دعوه دار یو، د الله جل جلاله کتاب قرآنکریم او نبوي سنت خپل قانون او لاری مشال ګڼو خپل اساسي قانون ته اسلامي وایو او په دی فخر کوو چې زموږ قانون او منهج د اسلام دین دی نو بیا ولې تراوسه په دی نه برلاسی کیږو چې د جنګ اور مړ او پر ځای د امن ګلونه وکرو ؟ خپل منځي عداوت ختم، او پر ځای د مینې لاسونه ورکړو؟ په دې خبره فکر وکړو چې آیا زموږ په دین کې د ناروا اختلاف، د یو بل د وژلو، عصبیت او ځورولو جواز شته؟! آیا زموږ په دین کې مسلمانانو ته پخپلو کې د یو موټی کیدو او له تفرقې نه د ډډې کولو پرته د بل څه تاکید شوی دی؟! آخر موږ د الله جل جلاله دغه ابدي حکم ((واعتصموا بحبل الله جمیعاً ولاتفرقوا، او انما المؤمنون اخوة فاصلحوا بین اخویکم))، څخه د سر غړونی لپاره کوم دلیل لرو؟ سبا د قیامت په ورځ به د خپل رب په وړاندی څه ځواب ورکوو چې موږ ولې ستا پر واضح حکم عمل نه دی کړی.

د اسلام ددین منلو او په قرآن او حدیث د ایمان راوړلو مطلب لدې پرته څه کیدی شي چې پر هغو عمل وشي او خپلې ټولې لانجې د قرآن او حدیث په رڼا کې حل او فصل کړی شي.

آیا دا موږ لپاره د شرم خبره نه ده چې ځانته غوره امت ویونکی او تر ټولو ښه قانون لروونکی د ځو لسیزو راهیسې د یو بل مرۍ غوڅوو، یو بل وژنو او د یو بل د محوه کولو کوښښ کوو؟ څرګنده خبره ده چې موږ په دنیا او آخرت کې خپل ځان لپاره د برائت او خلاصون هیڅ دلیل نه لرو.

راځئ نور له خپلو تیرو کړنو څخه توبه وباسو، خپل رب ته رجوع وکړو او کلک عهد وکړو چې خپل پاتی ژوند د الهی قانون په اطاعت کې ترسره کوو. لدې پرته بل هیڅ داسی لاره نشته چې زموږ دغه بی اتفاقی ختمه او د امن ژوند مو په نصیب شي.

شهادت جريده

خپرونکی اداره: د حزب اسلامي افغانستان فرهنګي څانګه
د امتياز څښتن: حزب اسلامي افغانستان .
مسؤول مدير: عبدالله کامه وال
مرستيال: عبدالخليل (محمد خليل)
اړيکو شمېره ۰۷۰۸۱۹۸۵۸۲
د کتنپلاوي تر څارنې لاندې

آدرس: دحزب اسلامي دفتر
سيلو ته مخامخ خوشحال خان مېنه

افغان دولت د ثور اتمه (د مجاهدينو د بري د ورځې) جشن ته چمتوالی نيسي

سږ کال به په افغانستان کې د ثور د اتمې يا د مجاهدينو د بري د ورځې جشن په ځانګړو مراسمو ولمانځل شي، خو هڅه به وشي چې لارې او سړکونه دعامو خلکو پرمخ ونه تړل شي اود خلکو ورځنيو کارونو ته په کې زيان ونه رسيږي.

د دفاع د وزارت وياند جنرال ظاهر عظيمي، چې د جشن د تيارېو د يوه کميسيون مشري ور په غاړه ده ازادی راډيو ته يې وويل، چې د جشن د ښه او شانداره لمانځلو لپاره درې کميسيونونه ګمارل شوي او د کابل په درې برخو کې به د يو لړ پوځي او تفريحي پروګرامونو په ترسره کولو سره، ولمانځل شي. دی وايي:

"سږ کال به د ثور اتمه ولمانځل شي، هڅه موکړې چې تر يوه حده يې له پوځي حالت څخه وباسو او خلکو ته په کې د تفريح زمينه برابره کړو او پوځي مراسم به په ځانګړو ځايونو کې ترسره شي."

د دفاع وزارت وايي، جشن ته يې په زرګونو پوځيان ګمارلي دي، چې د ښار په ټولو سيمو کې د خلکو او د مراسمو امنيت وساتي، خو د کابل ځينې ښاريان وايي نه ښايي چې د هېواد په اوسنيو کمزورو اقتصادي حالاتو کې په جشن لګښتونه وشي.

د کابل ښار يو تن اوسيدونکي وايې:

"اوس مهال د هېواد په زرګونو زلميان وزګار ګرځي، فابريکې او کارخانې نشته، په دی جشن ډېرې پيسې لګيږي، که دا لګښتونه د غريبو خلکو د ښېګڼې لپاره وشي، ښه به وي دا جشن خلکو ته هيڅ ګټه نه رسوي."

د افغانستان دولت تېر کال د ثور د اتمې ورځې جشن ونه لمانځې، ځکه چې دوه کاله مخکې په همدې ورځ د مخالفينو له خوا پر مراسمو ډزې وشوې، مراسم ګډوډ او مرګ ژوبله په کې پېښه شوه.

د افغانستان د المپيک کمېټه وايې، چې دوی په دې ورځ يو لړ ورزشي پروګرامونه تنظيم کړي دي.

نبوي انقلاب

عبيدالله صافی

محمد صلي الله عليه و سلم چې کوم انقلاب راوستی و هغه د ننی زماني له انقلاب څخه بالکل جلا او مختلف و. د محمد صلي االله عليه وسلم انقلاب د کوم جبر او سازش په نتيجه کي نه وو راغلی بلکې د دعوت او تعليم په نتيجه کې راغلی و، دا انقلاب د خپل مزاج په لحاظ په صحيح معنا يو تعليمي انقلاب و، د هغه صلي الله عليه وسلم انقلاب هسې د څېرو بدلون او پر اقتدار د قبضې انقلاب نه و، بلکې دا انقلاب د وګړو د فکرونو او ټولنيز ماحول د تبديلي له لاري راغلي و، د هغه صلي الله عليه وسلم انقلاب داسې نه و چې څوک د فشار او زور په ذريعه له خپل فکر نه واړوي بلکې د هغه صلي الله عليه وسلم د انقلاب راوستو طريقه دا وه چې د انسان زړه او ضمير قانع کړی او په هغه کې د تخريب پر ځای تعميري فکر پيدا شي.

محمد صلي الله عليه وسلم چې په کومه ټولنه کې زيږېدلی و هلته قبايلي سرداري نظام و. زورورو قبيلو به په کمزورو قبيلو د ظلم او زياتي ميچنې ګرځولې، د عدل او انصاف څرک چېرته نه تر سترګو کېده، د انسان وژنې بازار ګرم و، د ښځو پر عفت تيری کېده لنډه دا چې زورورو انسانانو پر کمزورو انسانانو خپل خدايي قايمه کړې وه.

محمد صلی الله عليه وسلم د هغوي په وړاندې اعلان وکړ چې له يو الله نه پرته بل هېڅوک معبود نه دی، بندګي بايد يواځې د يو الله وشي.

د محمد صلی الله عليه وسلم دغه اعلان کمزورو وګړو ته د ظلم له پنجرې نه د وتلو لاره پرانسته د لا اله الا الله کلمه د خلکو په زړونو کې يو زبردست انقلاب راوست او هغوي ښکاره وويل چې موږ يواځې او يواځې د هغه الله غلامي کوو چې زموږ پالونکی، مالک او خالق دی.

د لا اله الا الله په کلمه کې د الله تعالی له وحدانيت سره د انسانيت د وحدت تصور هم پروت دی، يعنې د يو خدای تر خدايي لاندې ټول انسانان د بندګي په يو صف کې ودرېږي، په دې کې سپين، تور، عرب او عجم تر منځ هېڅ توپير نشته، د ټولو حقوق يو ډول دي، فرق صرف په تقوی کې دی، هر څوک چې زيات خدای پرست او نيک عمله وي هغه د الله پر نزد غوره دی، د انساني وحدت ددغې نظريې او د فضيلت ددغه تصور له کبله ټوله غلطه نظريه بدله شوه.

د الله تعالي د وحدانيت د پخې عقيدې تر څنګ د انساني وحدت عقيده د آدم عليه السلام د اولادې له اوږو نه هغه درونده بار کوز کړ چې نورو انسانانو د جبر او فريب له لارې وربانده بار کړی و او ټول هغه ځنځيرونه يې وشلول چې له ځانه جوړ شوي مذهبونو او جاهلي رسمونو په بڼه کې د هغوي پښې او لاسونه تړلي وې کومو اشخاصو چې پر محمد صلی الله عليه وسلم ايمان راوړی و د هغوي په اړه څوک داسې مثال نشي وړاندی کولی چې هغوي د لا اله الا الله کلمه صرف په خوله ويلې وي او د عمل په ډګر کې د هغې د تقاضا په مطابق يې عمل نه وي کړی.

هغوي بت پرستي پرېښوده د انسانانو په وړاندې د سر له ښکته کولو نه يې کلکه ډډه وکړه د خپلو نفسونو د خواهشاتو غلامي يې پرېښوده، د شرابو له څښلو نه يې لاس واخيست د نيکی لاره يې خپله کړه او د ګناه ټول کارونه يې پرېښودل. پر هغوي يې د ظلم ميچنې وګرځولې مګر د صبر لمنه يې پرېښنبوده، هغوي پر سرو سکروټو څملول، په لارو کوڅو کې يې راښکل، له خپلو کورونو څخه په زوره وويستل شول، له خپل مال او متاع نه بې محروم کړل مګر د آزمېښت په دې سختو شيبو کې بيا هم د وحدانيت کلمه يې پرېښنبوده نه د لااله الا الله له انقلابي لاربښوونې څخه ورووسته شول او نه هم د محمد صلی الله عليه و سلم له اطاعت څخه سرغړونه وکړه.

د اسلام په منونکو کې داسې اشخاص پيدا شول چې کله کومه ګناه ترينه صادره شوه نو د محمد صلی الله عليه وسلم په خدمت کې حاضر شول او غوښتنه يې وکړه چې لدي ګناه نه په سزا ورکولو پاک کړي خپل ټول قوت او قابليت يې د اسلام د سرلوړي لپاره وقف کړ.

کوم څيزونه چې د الله او رسول له لوري ورباندې لازم او ضروري ګرځول شوي وو هغه ټول يې د زړه له کومې خپل کړل، او کوم څيزونه چې ورته حرام ګرځول شوي وو له هغوي نه يې داسې کلکه ډډه وکړه چې لږ غوندې تمايل يې ورسره هم ښکاره نکړ. هغوي نه د چا له قوت نه وويرېدل او نه هم د مال او دولت د لالچ په وجه په چا خرڅ شول، له ماحول نه متاثره کېدو پر ځای د خپل دين تابع او د اسلام په رنګ کې رنګ کړ.

له ټولنې نه هر ډول جرمونه له منځه لاړل د خلکو ځان مال، عزت او حقوق ټول محفوظ پاتې شول، داسې عدل او انصاف قايم شو چې د غريب او مالدار حيثيت يو برابر شو، هر چا کولای شوه چې په آساني سره د قاضي په عدالت کې خپل حق تر لاسه کړي.

په ټولنه کې د غربت او افلاس لمنه ټوله شوه او هر نادار ته له بيت المال نه پيسې حواله شوې. د رسول الله صلی الله عليه وسلم د پيروانو په ټولنه کې فضول خرچي او اسراف نه و، بې حيايي او بې حجابي نه تر سترګو کېدله، هر لوري د وروري او ايثار ماحول جوړ شوی و د امن هغه اوچته فضا قايمه شوه چې د هغه په اړه محمد صلی الله عليه و سلم وړاندوينه کړې وه چې يو مسافر به له صنعا نه تر حضرموته سفر کوي خو له يو الله نه پرته به له بل هېچا نه ويره نه کوي.

په دې لنډ مضمون کې د محمد صلی الله عليه وسلم د پاک سيرت ټول حالات او واقعات په تفصيل سره نشي وړانړي کېدلی بلکې په لنډ ډول ددې خبرې د ښکاره کولو کوښښ شوی چې د محمد صلی الله عليه وسلم شان څنګه و.

امريکا به د اصلاحاتو راوستو ...

څو له خپل حکومته فاسد مقامات او هغه عناصر لېرې کړي چې په مليونونو افغانان يې له خپل حکومته خوابدي کړي دي .

ورځپاڼه په خلکو کې د ولسمشر کرزي د حکومت د منزوي کېدو او د طالبانو د قوي کېدو د يادونې تر څنګ ليکلي چې ولسمشربارک اوباما ته پکار ده چې په افغانستان کې دوهمه جبهه پرانيزي چې حساسيت يې لږ دی او هغه د فساد پرضد مبارزه ده .دی بايد پر کرزي فشار راولي چې له ملګروملتو وغواړي چې د افغانستان د اقتصادي پراختيا چارې او په دې هيواد کې د پيسو مصرف وڅاري .

د ورځپاڼې په نظر ملګري ملتونه د افغانستان د سياسي ادارو له پياوړتيا او د انتخاباتو له څارنې سره مرسته کولی او دا يقيني کولی شي چې مرستې محتاجو او اړو کسانو ته ورسېږي .

د پيسو نړيوال صندوق،نړيوال بانک او اسيايي بانک له افغانستان سره د نړيوالو مليارډونو ډالره مرستې ښه څارلی او تنظيمولی شي .

دې موسسو تر ۲۰۰۵ پورې ،چې ملګروملتو په غيرمعقولو دلايلو د هغوی لاس لنډ کړ،دا کار په ښه توګه ترسره کړ .

بله ستونزه د ماليو او عوايدو د ترلاسه کولو ده چې که دا کار په سم ډول تنظيم شي د افغانستان د حکومت له خدماتو سره مرسته کولی شي خو اوس دا عوايد ډېرد فاسدو مقاماتو له لوري خوړل کېږي .

د هيرالد تريبيون په وينا نړيوال بانک ، چې د کرزي له حکومت سره يې په پرمختيايي پروژو کې همکاري کړې ده ،د عامه خدماتو مصارف او د مامورينو معاشونه په ښه ډول څارلی شي .

د ورځپاڼې په نظرد نړيوالو موسسو د رول له پياوړتيا سره مرستندويان زياتو مرستو ته تشويق کېږي او هغوی کولی شي چې له افغانستان سره د تخنيکي ماهرانو په برخه کې هم مرسته وکړي چې افغانستان د دې جوګه کړي چې له خپلو منابعو څخه کار واخلي .

ورځپاڼه ليکي :که فساد لږ شي،اقتصاد ښه تنظيم شي او نړيوالې هلې ځلې زياتې متمرکزې شي ، افغانستان به چې اوس د نړی يو ترټولو بېوزله هيواد دی ، فقير پاته نه شي بلکې دا هيواد به د دې جوګه شي چې د حکومت مالي پېټی او د پرمختيايي چارو مصارف په خپلو اوږو واخلي .

انګلا مرکل: عواقب خروج سريع ...

هسته‌اي به دست گروه‌هاي افراطي را افزايش مي‌دهد.

اظهارات صدراعظم آلمان در حالي صورت مي گيرد که افکار عمومي اين کشور با حضور نظامي کشورشان در افغانستان مخالفند .

طبق نظرسنجي اخير صورت گرفته در آلمان، ۷۰ درصد مردم اين کشور خواستار خروج هر چه سريعتر نظاميان آلماني از افغانستان هستند و تنها ۲۶ درصد با ادامه حضور نظامي کشورشان در خاک افغانستان جنگ‌زده موافقند .

اخيراً با کشته شدن ۷ نظامي آلماني در افغانستان، شمار تلفات نظاميان آلماني در اين کشور از زمان حضور نظامي آلمان در افغانستان در سال ۲۰۰۲، به ۴۳نفر رسيده است .

آلمان حدود چهار هزار و ۵۰۰ نظامي خود را در خاک افغانستان مستقر کرده است و سومين مشارکت کننده نيرو در اين کشور محسوب مي شود .

امريکايي چارواکي وايي: له ملا ...

په هکله څه وواېي او له ملا برادر څخه چې د افغان طالبانو يو ډېر پخوانی پوځي قوماندان دی، د تحقيقاتو د بنې په هکله يې هم معلومات ورنه کړل.

هغوی يوازې دومره وويل:«د تحقيقاتو مشري د پاکستانيانو په لاس کې ده.»

يوه امريکايي چارواکي د ملا برادر تحقيقاتو ته په اشارې سره وويل:« دا شيان وخت غواړي. وخت پکار دی، چې معلومات تر لاسه شي او وخت پکار دی، چې بيا د دغو معلوماتو رښتينوالي کنترول شي.»

بل چارواکي وويل:« هغه يعني ملا برادر اوس د ګټورو معلوماتو په شريکولو پيل کړی دی.»

د طالبانو د نوموړي مشر له نيولو څخه په افغانستان کې د امريکا د متحده ايالاتو او د ناټوځواکونو عمومي قوماندان، جنرال سټنلي ميک کريسټل هرکلی کړی، او هغه يې په افغانستان کې د متحده ايالاتو په مشرۍ په اته کلنه جګړه کې د هغه د خپلې جملې له مخې يو« لويه بدلوونکی»مهم تحول وګاڼه.

خو ځينو نورو امريکايي چارواکو په لومړي سر کې هغه معلومات، چې ملا عبدالغني برادر پاکستاني مستنطقينو ته ورکړي ژل، چندان د ارزښت وړ ونه ګڼل.

پر ايران د بنديزونو لګولو...

هيوادونواستازي د روسيې او چين د سفيرانو په نه موجوديت کې راټول شول .

ديپلوماتان وايي چې د شپږو هيوادونو سفيران به په راتلونکو څو ورځو کې پر له پسې کتنې وکړي.

يوه لوېديځ ديپلومات رويټرز خبري اژانس ته وويل چې د دوی د خبرو اترو لړۍ تېزېږي. بل ديپلومات وويل چې شپږ واړه هيوادونه ممکن په دې موضوع هره ورځ وږغېږي څود امنيت شورا د پنځلس دايمي او غيردايمي غړيو شورا ته يوه مسوده برابره کړي.

د جرمني سفيرپيټرويټيګ د ماسپښين تر غونډې مخکې خبريالانو ته وويل چې دا د نظرونو د تبادلې ادامه ده چې سترو قدرتونو تېره اوونی په نيويارک کې پيل کړه.

د چين سفير د چهارشنبې د ورځې له غونډې وروسته وويل چې شپږ هيوادونه اوس د يوبل پر دريځونو ښه پوهېږي.

د امنيت شورا پنځه دايمي غړي او جرمني د امريکا پر هغې مسودې خبرې کوي چې يوه اوونی دمخه وړاندې شوه او پر ايران له لورې د يورانيمو د غني کېدو په خاطرد څلورم پړاو بنديزونو لار پرانيزي .ديپلوماتان وايي چې دا خبرې به لږ ترلږه تر جونه پورې دوام وکړي.

مخالفين مسلح در بدل آزادی ...

در حالي که سخنگوي طالبان به محل نگهداري اين خبرنگار ارشاره‌اي نکرد، يکي از باشند گان بغلان مرکزی که نخواست نامش فاش شود، گفت: احتمالاً اين خبر نگار در ساحه دندغوری در قيد طالبان است.

احمد جاويد "بشارت "سخنگوی پوليس در بغلان نيز گفته است که با تمام تلاشي که کرده‌اند هنوز نتوانسته اند محل دقيق نگهداري اين خبرنگار را مشخص نمايند.

سخنگوی پوليس همچنين تاکيد کرد: تا کنون هيچ درخواستی از سوي طالبان دريافت نکرده اند.

با اين حال انجمن آزاد خبرنگاران در بغلان با بر گزاري يک نشست، خواهان آزادي اين خبر نگار شده اند.

کوسوکی سونيکا حدود چهل سال عمر دارد و در گذشته در کشور عراق نيز به عنوان خبر نگار آزاد کار کرده است.